داؤد موسی

۲۰۱۱/۰۸/۲۴

# کندهاری پښتو

د بشر د تاریخ په شهادت  په کلتورونو او خاصتاً په یوه ژبه کی تغییرات په څو شکلو راتلای سی:
- لمړۍ د مهاجرت په نتیجه کی چی د  بیلوملتو ژبی یو پر بل اغیزه اچوی.
- دوهم د ګاونډیتوب اغیزه، لکه چی په پښتو ژبه کی د دری ژبی د تاثیر مثالونه په لاندنی برخه کی ښوول سوی دی.
- دریم د جنګ او فتوحاتو له کبله.
- څلورم د تجارتی معاملاتو او تګ راتګ په نتیجه کی هم ورته نتیجه لاس ته راځی.
- پنځم د تکنالوجی د شریکولو یا صدور له امله.  مثلاً په افغانستان کی د برق د راتلو سره زموږ په ژبه کی داسی کلماتو لکه ګروپ، هولدر، وال ساکت، پلګ، کیبل، فیوز او نورو لار پیدا کړه. هم دا رنګه د موټر او کمپیوټر او بانک داری د راتلو سره سم داسی کلمات لکه انجن، تیر، تیوپ، سلندر، پشتن، سلنسر، پرینتر، موس، سکرین، سکنر، آویز، کریدت، دبت، تکت پولی چه حساب یی زرو ته رسیږی زموږ په ژبه کی ځایګیره سول.  خو کله کله په یوه جامعه کی داسی کسان هم پیدا کیږی چه په وچ لاس او د خپل قلم او ګفتار په زور پخپله ژبه کی تغییر او بدلون راولی.  لکه د انګریز  مشهور شاعر شکسپیر چی وایی د ده په آثارو کی په سلو کی لس کلمات دده خپله اختراع ده. دوه بل مثالونه یی د انګلستان د پخوانی صدراعظم چرچل دی چی د (منځنی ختیز) او د (اوسپنیزی پردی) لغات یی په انګریزی ژبه کی رواج کړی دی.  د (انټرنشنل) کلمه بیا د انګلستان د مشهور فیلسوف برتراند رسل تحفه ده چی انګریزی او نورو ژبو ته یی ورکړی ده.

لکه چی ګرانو لوستونکو ته پوره معلومه ده،  د پښتو ژبی په لهجو او کلماتو کی هم لر او بر سته.  زما په دی لیکنه کی کومی تبصری چی لیدل کیږی هغه د برو پشتنو ، او مخصوصاً د کندهار (۱) د منطقی د خلکو پر ژبه باندی دی. په لاندی ډول:

لمړی:  په نړۍ  کی داسی ژبه نسته چی هغه دی د نورو ژبو د تاثیر څخه په امان وی. بلکه ژبپوهان وایی چی هر کله یوه ژبه د بلی ژبی څخه کومه کلمه یا اصطلاح په پور اخلی، دا داسی یو پور دی چی پور اخیستونکې بډایوی خو پور ورکوونکی ته تاوان نه رسوی.

اوس نو که پر خپله ژبه باندی د ګاونډی کلتور (چی ژبه هم د کلتور یوه برخه ده) آثار و څیړو، نو لاندنی مثالونه به حقیقت را ته څرګند کی:

لمړی د دری ژبی اثرات لکه خونه، سیبه، درخته، سرپوزه، سرده،  باغ پل،  ده خواجه،  فیل کوه، هر یکی او هردو (د مردکو په لوبه کی)،  کشک نخود، کلچه آباد (قلیچ آباد)،  دوګانه (د تاک نهال)، اړیسه (هریسه)، ادوه (ادویه)، ارغونجکی. بر غونچکی. <u>اوتاد (افتاد) به یک کنجکی</u>. سیلا به سیلا بور. <u>بګو چند</u>؟ (د کوچنیانو په بازی کی)، شولای (شله) زرد، دیګچه، میر آخور، دل آرام،  یخچال، ناګهان، بیابان،  دره، منزل باغ، چار باغ، انبار، روغانې، عروس کشک، شیر برنج، ناغه، نیم سری، چار عرق، نبات داغ، دلبند، آیینه مصحف، کوهک، چرخ فلک، خواجه ملک، جوی لاهور، ارغنداب، پنجوایی، کوه کران، شیر سرخ، سنګ حصار، آخند زاده، چار ښاخه، ګرمسیر، قلعه شاه میر، سیاه جوی، بند تیمور، چارده، پنج ده، شاه جوی، نوش جان، دامان، شور آبک، شور اندام، سوزنی، خامک دوزی، یک لنګه، بلدی (بالا ده)، کلانتر کاریز، خاکریز، چار کنج، رخشند (ریشخند)، سنګین او ډیر نور. سربیره پر دی ، زموږ په ژبه کی هغه پوچ کلمات (ښکنځل) چی دلته د تکرار وړ نه دی هم اکثراً دری کلمات دی.

- دوهم د هندی او اردو ژبی اثرات:  لکه باجه، بجه، لنګی، لنګوته، لک، لک پتی، کرور، کرور پتی،  چُپ، چانواری (چاند ماری)، کوټې، چوک، جالې، بیر و بار (بهیړ بهاړ)، چوکره، ګړې، ګوړه، ګول، ګولایی، چړایی، اترایی، ګړونج، مالټه، سنټره، کیله، نارنج، مټر، بینډې، مټه، امروت، چکوتره، لیمبو، چکوُ چپراسی، کاټ، چالان، انګړ، پاټک او داسی نور.

د ذکر وړ موضوع داده چی د عربو کلتور چی اصلاً د اسلام د سپیڅلی دین سره سم  د اسلامی عالم ختیزی خوا ته راغی، ددی باعث وګرځید چی په زرهاوو عربی کلمات او اصطلاحات په فارسی، پښتو، ترکی، اردو، ازبکی، حتی د  ختیزچین ، اندونیزیایی او مالیزیایی ژبو کی د محلی ژبو د کلماتو په حیث قبول سی. حتی په پښتو ژبه کی موږ د عربی کلمی څخه د (رقصیدل) او (قبولول) او د هندی ژبی څخه د (چلول) مصدرونه هم جوړ کړی دی.  همدا رنګه د هند د لاری د پرتګالی ژبی څخه (پرتګالیانو ډیر کاله په هند کی حکومت کړی وو)، ځینی کلمات لکه (مستری)، (کرتۍ) او (پیسه) زموږ ژبی ته لار پیدا کړی ده.  (چای) ، (سیمیان) او  (ختایی) کلچی هم د چینی ژبی ارمغان دی. (ختا، ختن اوکیتا د چین تاریخی نومونه دی).


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د انګریز د امپراتورۍ په تاریخ کی چی دوی د صلیبی جنګو را په دی خوا د دنیا پنځمه برخه د ځان کړی وه، د هری ژبی څخه ئی بی له تبعیضه لغات په خپله ژبه کی مدغم کړل چي په پای کی نن ورځ ددوی ژبه د تقریباً یو ملیونو لغاتو په لرلو سره د دنیا تر ټولو بډایه ژبه ده.  که په دی حساب کی علمی او طبی لغات هم ونیسو، نو شمیره یی  له دوه نیمو ملیونو کلماتو څخه هم اوړی.   نور دا چی د همدی کلماتو د بډایۍ له خیراته په دی آخرو یو سل او څو کلونو کی د ادبیاتو کلنی جایزی د سویدن د نوبل د موسسی خوا ، تقریباً په سلو کی څلوېښت انګلیسی ژبو ګټلی دی.  په اوسنی حال کی په انګلیسی ژبه کی د کاله د ۱۵ تر ۲۰ زره پوری کلمات علاوه کیږی چه اکثره یی علمی او تخنیکی لغات دی.
د لغاتو د غنا له کبله د دنیا دوهمه ژبه فرانسوی ده چه صرف دری لکه کلمات لری. عربی، روسی، پښتو، فارسی او داسی نور ټوله د یوه لک کلماتو په شا او خوا کی موقعیت لری.
نو په داسی حالت کی که زموږ د کندهار پشتو د افغانستان او پاکستان د پښتنو ژبو سره مقایسه سی، هغه حقیقت چی لاس ته راځی، دادی چه  د کندهار په ژبه کی د ایران د صفویانو د سلطی سره سم  یو زیات شمیر فارسی او هندی کلمات مدغم سوی دی چی مثالونه یی دمخه ورکړل سول.
شک نسته چی د پورتنی ذکر سوی عواملو له کبله. د کندهار په پښتو کی، د پښتو د نورو لهجو په مقایسه، د خارجی کلماتو د وجود په لحاظ بعضی جملات ډیر فرق کوی. مثلاً که دا جمله په نظر کی ونیسو: په ښونځۍ کی چی ښوونکی هلکانو ته لوست ورکاوه، د ټولګۍ د پاسه یوه الوتکه او دوی چورلکی تیری شوی.  دغه جمله زموږ د کندهار په پښتو کی داسی راځی: په مکتب کی چه معلم هلکانو ته درس ورکاوه، یوه طیاره او دوی هلیکوپټری د صنف پر سر تیر سوی.  یو څو نور مثالونه هم لطفاً په نظر کی ونیسی: خوشی کیدل (ایله کیدل)، تودوخه (حرارت) ، سر تیری (عسکر، لښکر، سپاهی، فوج)، اړیکه (تعلق)، یون (حرکت)، خوشی (بی ځایه، بی معنی)، ټول ټاکنه (انتخابات)، سیالی (رقابت)، ماشوم (کچنی)، لوبه (بازی)، لوب سیالی (مسابقه)، ګوښی (یوازی)، کړکیچن (مغلق)، سلنی (په سلو کی یا فیصده)، پرتله (حساب، لحاظ)، ګوټ (کنج)، ورځپاڼه (اخبار)، اورپکی (توپکیان)، روغتون (شفاخانه)، مڼه (سیب)، ونه (درخته)، ګواښ، پرخیدل او په زرهاو داسی نور. حتی موږ د (و لیکه) پر ځای (نوشته که) هم وایو.
دا فرقونه په تاریخی ډول، ځینی وخت د جغرافیایی لریتوب او د ارتباطاتو او مناسباتو د کمبود له امله منځ ته راغلی دی، او په حاضره زمانه کی بیا زموږ مطبوعاتی،  د رادیو او تلویزیون د چلوونکو او نطاقانو د سر د خیراته د لغت جوړولو یوه سخته مسابقه روانه ده.  ددی مسابقی مشمولین باید دوه خاصیته ولری:   اول داچی یا کلمه د ځانه جوړه کی.  لکه چورلکه او رسنی.  حتی د بی بی سی د یوه نطاق د خولی می د (پنځکی) کلمه د (پنجشنبی) به معنی واوریدل.  دوهم دا چه که دوی د مثال په توګه یوه کلمه چه یوازی د کنړو د ولایت په یوه کلی کی مروجه وی پیدا کی، نو سبا به یی ټوله دنیا ته د پښتو د ژبی د یوه عام لغت په بڼه ور اوروی.
د بدی مرغی دی مشکل په فارسی ژبه کی یوه سیاسی بڼه پیدا کړی ده او هغه کسان چی د دی مردار پلان په چلولو کی مؤظف سوی دی،   هڅه کوی چی ایرانی او عربی اصطلاحات حتی د هغه سوچه دری کلماتو بر ځای چه په افغانستان کی د پیړیو را په دی خوا رواج لری په کار واچوی.  مثالونه یی (پسر عمو) د بچۀ کاکا پرځای، (بازداشتګاه) د (محبس)، (بندی خانی)، (توقیف) او (نظارت خانی) پر ځای، (ارتش) د (اردو)، (لشکر)، (سپاه)، (فوج)  پر ځای، (کولی) د (جت) بر ځای، (لوله) د (نل) او (پیب) پر ځای ، (مجلس) د (ولسی جرګی) پر ځای (په داسی حال کی چی هم د (ولس) او هم د (جرګی) کلمات په دری ژبه کی موجود دی او داسی نور په سونو نور.
د دوی و دی حقیقت ته پام نسته چه د الکترونیکی میډیا (لکه رادیو، فلم، او تلویزیون) او چاپی میډیا (اخبارونه، مجلی او کتاب) په منځ کی یو عمده فرق سته، او هغه دا چی چاپی میډیا یوازی د جامعی د با سواده طبقی د پاره ده، او په هغه کی لغت پرانی تر یوی اندازی پوری ګنجایش او ځای لری.  لیکن په الکترونیکی میډیا کی د بی سوادو لیدونکو او اوریدونکو برخه ډیره ده. نو دا ښایی چه د عوامو په عوام فهمه ژبه خبری وسی.  که داسی نه وی، نو د  داسی خبرو څخه څه فایده لاس ته راځی چه عوام یی په معنی ونه پوهیږی؟
اوس به نو راسو ددی مضمون د پای ټکی ته:  دغه اوسنی د کندهار د پښتو ژبه او لهجه که ټوله دری ده او که نیمایی هندی ده، خو بیا هم زموږ مورنۍ او د پلرو او نیکه ګانو را پاته ژبه ده او هم موږ ددی ژبی پر دغو خصوصیاتو باندی افتخار کوو. خو زه ګورم او اورم د کندهار په موجوده میډیا کی په یوه ژبه خبری او لیکنه کیږی چی زما د ژبی سره سر نه خوری.
نو بنیادی سوال دادئ چی آیا موږ ته ښایی چی د خپلی ژبی خصوصیات (که څه هم بیګانه دی) وساتو، او یا هڅه وکو چی په ټوله پښتونخوا کی یو قاموس او یوه لهجه رایجه سی؟

************************************


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

(۱) دلته مطلب د کندهار د پښتو ښخه هغه پښتو ده چی لمن یی د زابله ښخه را نیولی، بیا تر کندهار، هلمند، ارزگان، فراه او حتی کوټی پوری رسیږی.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ